ما وې ګیلې به ورته کومه
چې مخامخ شومه خاموشه اودریدمه
ګیلې کووم وئیلې نۀ شم
په طمع طمع وخت د عمر تیرومه

# ګیلې

لایق زاده لایق

# کتاب پېژندنه


دا کتاب ــــــ ګيلې

ليکوال ــــــ لايق زاده لايق

کمپوزنګ ــــــ ارشاد خان پښتو اکېډمي پېښور

ومړبې چاپ ــــــ ۱۹۷۹ء

دويم چاپ ــــــ ۲۰۱۲ء

شمېر ــــــ ۵۰۰

بيعه ــــــ ۱۲۰ کالدارې

چاپ ځائے ــــــ ضياء پرنټرز پېښور


## د ملاوېدو درک

- يونيورستۍ بک ايجنسي خيبربازار پېښور ښار
- د پښتو اکېډيمۍ د کتابونو دُکان پېښور يونيورستۍ او ددې ترڅنګه د کتابونو هر لوئے دوکان

# تړون

د هاغه چا په نوم چې زۀ ئې پېژنم ....خو ما نۀ پیژني او د هاغه ساحر افریدي په نوم د چا ,, پانزیب ،، چې زۀ غزل لیکلو ته را اوپارولم.

لایق زاده لایق
۱۲ اګست ۱۹۷۸

# یادګیرنه

,,ګیلې ،، زما د باقاعده شاعرۍ مجموعه ده چې په ورمبي ځل په کال ۱۹۷۸ ء کښې چاپ شوه . دغه د پرون لېوني لېوني خیالونه د خپلو مینه والو دپاره یو ځل بیا چاپ ته سپارم . په دې پوره باور چې زما د دوه دیرش کالو په ماتو ګوډو شعرونو کښې به زما ځواني لټوي .... زۀ چې څنګه پرون د شعر په رموزو نۀ پوهیدم . نن هم په دغه لټون یم .

شاعري زما د وس خبره نۀ ده
څۀ چې لیکم دا اظهار د لېونتوب دے

ستاسو
لایق زاده لایق
اګست ۲۰۱۲

# زما ,, ګیلې ، ،
## درې دیرش کاله پس

هو ... ماته هاغه ټول وختونه یاد دي . چې کله ما په ورمبي ځل تۀ لیدلې وې . خدائے خبر تا ماته په سترګو کښې څۀ وئیلي وو . چې زۀ دې د خپل ځان نه ورک کړے ووم . زۀ به چې کله هر سحر د خپل کلي مدین نه د مینګورې کالج ته راتلم . نو تا به پټه پټه زما د سپینو جامو تماشه کوله . ځکه چې په ټول کلي کښې مونږ ایله دوه دریو کسانو د کالج لاره لیدلې وه . تۀ هم لکه په دې انتظار وې چې دا ساده باده لېونے لېونے هلک به په کالج کښې ژوند ایزده کړي خو ... لېونۍ ... ما خو به هلته هم ستا فکرونه کول . او په دې انتظار به ووم چې کله به واپس کلي ته ځم . کله کله خو به مې په کور کښې بهانه جوړه کړه . او ستا د لیدو په خاطر به د کالج نه پاتې شوم . لېونۍ ! دغه ورځې څومره ساده باده وې . ما به تا ته څۀ وئیل غوښتل خو . . . دا ممکنه نه وه ځکه چې په دغه ورځو شپو کښې د مینې ټولې رشتې مقدسې وې . د موبایل څۀ چې چا په ټیلیفون د خبرو تصور هم نۀ شو کولے . تاته یاد دي ما چې به

کوم نوے شعر اولیکلو نو د ,, هغې ،، په لاس به مې تاله در اولیږلو ۔ ,, هغه ،، هم ساده وه ۔ ټوله ټوله ورځ به په دې انتظار وه چې کله به ورله زۀ نوے غزل ورکړم ۔ تاته یاد دي کله کله به ما تاته د غزل په ځائے د مینې خبرې هم اولیکلې او تا به ایله په دوؤ ټکو کښې د هغې جواب راکړو ۔ غالباً تۀ هوښیاره وې ۔ او د رواجونو د زولنو نه خبر وې ۔ خو زۀ بې پروا ووم ۔ د هر څۀ نه بې پروا ۔۔۔ پلار مې دې خدائے اوبخښي ۔ کله کله به راته ډېر غصه شو ۔ لکه چې هغه په زړۀ کښې زما په مینه پوهیدو ۔ خو ماته ئې مخامخ خبره نۀ کوله ۔ ځکه چې زۀ پرې ډېر ګران ووم ۔

تاته یاد دي چې یو ځل زۀ په ویګن کښې مینګورې ته روان ووم او د مدین د کلي نه په څو کلو میټره کښې د ویګن حادثه اوشوه ۔ دا د کال ۱۹۷۸ء خبره ده ۔ په هاغه ورځ به تا څومره ژړلي وي ۔ تا به دا ارمان کړے وي چې لیونۍ لیونۍ هسپتال ته لاړه شم او په خپل لیوني بې اختیاره ورپریوځم ۔ خو لیونۍ ۔۔۔ تۀ مجبوره وې ۔ او بیا چې په کلي کښې دا اواز خور شو چې لایق زاده لایق د بچ کیدو نۀ دے نو ستا د لاسه به قلم څنګه راپریوتے وي ۔ ستا د غټو سترګو نه به څومره اوښکې بهیدلې وي ۔ او تا به هاغه د روژې ماښام څنګه تېر کړے وي ماته دا احساس دے ۔ ځکه چې زما خو ټول وجود ټوټې ټوټې

وو ـ دوه درې ورځې بې هوشه ووم چې کله په هوش کښې راغلم نو په هر مخ کښې به مې تۀ لټولې ـ تۀ خو زما پوښتنې له هم راغلې وې ـ خو ـ ـ ـ ـ دا دې نشو وئيلے چې زۀ خپل لېونے ليدل غوارم ـ تۀ راغلې ـ ـ ـ لاړې ـ ـ ـ ما دې د پښو ښکالو واؤريده خو د حجرې نه بهر راوتے نشوم ـ ځکه چې ډاکټران رابانديې ويريدل ـ ـ ـ لېونۍ ما مرګ له لته ورکړه ـ زۀ بيا کالج ته د تلو جوګه شوم ـ تۀ ډېره خوشحاله وې ـ ما د خپل ژوند دغه تږولې لمحې هم په کال ۱۹۷۸ء کښې کتاب ته اوسپارلې او چې کله کتاب خور شو ـ نو خلقو په کلي کښې ګنګوسے شروع کړو ـ زما د نوم سره ئې تۀ هم يادولې ـ تۀ به په زړۀ کښې پټه پټه خوشحاليدلې ـ خو ددې نه خبر نۀ وې چې ـ ـ ـ حالات به دا تنکۍ تنکۍ لېونۍ مينه کوم پړاؤ ته رسوي ـ مونږ خو ايله د ځوانۍ په درشل قدم ايخودے وو ـ زمونږ احساسات خو لېوني لېوني وو ـ خو جذبې مو نيکې وې ـ لېونۍ تاته ياد دي؟ چې کله زما د ,, ګيلو ،، قيصه توده شوه ـ نو مونږ د يو بل په ليدو پسې ناقراره وو ـ ماته د خپل زړۀ هاغه درزا تر اوسه ياده ده چې کله تۀ زما خواله راتلې ـ تا په رواجونو پښې ايخودې ـ ـ ـ زۀ هم په هاغه زيارت کښې ستا په طمع ووم په کوم چې مې تۀ غوښتلې وې ـ ـ ـ تۀ راغلې ـ ـ ـ خو ما اونۀ ليدلې

ځکه چې زمونږ په سترګو کښې حیا وه ـ مونږ یو بل ته نشو کتے خو مونږ په یو بل پوهیدو ـ نن چې د درې دیرش کاله پس زۀ د ژوند د ډېرو پړاوؤنو نه راتېر شوے یم ـ او تا هم د خپل لېوني ژوند ډېر سپرلي لیدلي دي ـ زما ,, ګیلې ،، ما ته د تېرو وختونو قیصې کوي ـ د هر شعر او هر غزل شاته یوه داسې قیصه چې په هغې زما او ستا نه علاوه بل څوک نۀ پوهیږي نن چې تۀ یو ځل بیا ,, ګیلې ،، کوې نو تېر وختونه به درته سیوري سیوري کیږي ځکه چې مینه کله هم نۀ زړیږي ـ زۀ نن هم لکه ستا د خپلو لاسونو په کرښو کښې تا لټوؤم ـ او زما لېونۍ تۀ چې کله آئینې ته اودریږې نو د خپلو ویښتو په سپینو ډکو کښې به زما دا لېونۍ ځوانۍ خامخا وینې ـ

ستا تصویر مې د زړۀ کور کښې دے په ناز داسې ساتلے
لکه مئے په شنه پیاله کښې لکه بُت په بُتخانه کښې

لایق زاده لایق
د پروګرامونو د څانګې مشر
اګست ۲۰۱۲ء

# عرض

ټهیک ده چې غزل لیکل په ادب کښې د ټولو نه ګران کار دے غزل د خپل محبوب سره په اشارو او تشبیهاتو کښې خبرې دي او دغه شان ښۀ غزل هغه ګڼلے شي چوم ته چې د رنګینو رنګینو تشبیهاتو امیلونه غاړه کښې واچولے شي - لیکن بیا هم د زیات درد او غم له کبله ما خپلې ماتې ګوډې شاعرۍ له د غزل نوم ورکړے دے او سربېر خیرې ګرېوان مې د دغه ماتې ګوډې شاعرۍ کچکول ستاسو مخې له راوړے دے په دې غرض چې تاسو ورکښې څۀ کیږدئ - د تنقید ملغلرې یا د ستائنې ګلونه - ما به کچکول په انتظار نیولے وي - په اخر کښې زۀ د خپل ګران دوست استنبول خان ، امان الملک او سید رضا شاه ډېر ممنون یم چې زما سره ئې په دې سلسله کښې ملاتړ اوکړۀ -

لایق زاده لایق
اګست ۱۹۷۸ء

# ثناء

څـــهٔ بــې شـــانه قدرتونـــه ربـــه ســـتا دي
بـــې حســـابه صـــفتونه ربـــه ســـتا دي
دا چــې بــې ســتنو ولاړ پورتــه اســمان د ے
ترینـــه زار شـــم حکمتونـــه ربـــه ســـتا دي
شـــي پيـــدا زنـــده، مـــرده مـــړے ژونـــدي نـــه
څـــهٔ عجـــب شـــان کمالونـــه ربـــه ســـتا دي
تـــهٔ احـــد، صـــمد جبـــار ئـــې کردګـــاره
د ثنـــا عجـــب طرزونـــه ربـــه ســـتا دي
بلـــبلان دي پـــه چمـــن کښـــې حمـــد وائـــي
پـــه تعريـــف ګويـــا ګلونـــه ربـــه ســـتا دي
خوشحالي او روغ صورت چې دې عطا کړو
پـــه لايـــق تـــول رحمتونـــه ربـــه ســـتا دي

# صفت حبیب ﷺ

سـردار د جهـانونو محمـد هاشـمي دے
دوا د زخمـي زړونـو محمـد هاشـمي دے
مئین چې په امت باندې د موراو پلاره ډیر دے
باعـث د رحمتونـو محمـد هاشـمي دے
میدان کښې د محشر به د امت سفارش اوکړي
واک دار د جنتونـو محمـد هاشـمي دے
خالق نه دے بې شکه چې بنده د پاک الله دے
مالـک د صـفتونو محمـد هاشـمي دے
لایقـه کـه زړګے دې د فـراق پـه لمبـو سـوزي
پتـې د پرهرونـو محمـد هاشـمي دے
صلو علیه و آله

# لږ په خندا شه چې غزل اولیکم

○

بيـــا بـــه د ښـــکلو يـــارانې نـــۀ کـــوؤم
زۀ بـــه اعتبـــار پـــه زمـــانې نـــۀ کـــوؤم

زړګيــــــه تاتـــــه بـــــه د ډاډ دپـــــاره
بيـــا پـــه دروغـــه بهـــانې نـــۀ کـــوؤم

چـې مـې ژونـدون شـو اسـوېلي اسـوېلي
پــه ځــان بــه بيــا دغــه کــانې نــۀ کــوؤم

چـــې شـــي لتـــاره د نســـيم پـــه چپـــو
خيـــال بـــه د داســـې اشـــيانې نـــۀ کـــوؤم

زۀ ,,لايـــق،، بيـــا د خـــود غرضـــو ســـره
فکرونـــه هـــيڅ د ټهکـــانې نـــۀ کـــوؤم

○

دا چــې دې مــخ لــه مثالونــه ګــورم
ثــاني ســپوږمۍ لــه چراغونــه ګــورم

چــې د وفــا طمــع د ښــکلو کــوؤم
جـوړې پـه شـګو کښـې لعلونـه ګـورم

بیـا پـه وریځـو کښـې د ستورو ښـکلا
یــا دې پــه زلفــو پــټ خالونــه ګــورم

د خپلــو اوښــکو، اســوېلو پــه مینــه
شــیبې ، ســیلۍ او بارانونــه ګــورم

زۀ ,, لایـق ، ،ستاپه لېونوسترګوکښـې
د خپلـــې مینـــې امیدونـــه ګـــورم

○

زخمــي زړګيــه کوشــيرونه واخلــه
بـس کـړه د دې محفـل لاسـونه واخلـه

ستا په راتلو چې شمع پاتې نۀ شوه
صــبر طبيــب کــړه ټکورونــه واخلــه

چې ئې کړې پاتې سرګردانه غونډې
د هغـــه يـــاره رخصـــتونه واخلـــه

که اوس وفا ښکارېږي ګرانه يار ته
د ے غنيمــت زاړۀ يادونــه واخلــه

خبـر د ے کـه سـل ځلـه ئـې اورتلـې
لايقــه بيــا ئــې ســلامونه واخلــه

○

نۀ خوب شته نۀ خندا شته ستا غمونه مې چيړي
زړګې مې په سلګو دے ارمانونه مې چيړي

ښکلا دمړاؤ ستر ګو دې نن بيا په خيال کښې راغله
ناترسه ستمګره ستا لوظونه مې چيړي

هزار کړم کوششونه چې خندا مې خولې ته راشي
په زړۀ د جدايۍ سوي داغونه مې چيړي

اول به مې ګيله کړله د ګل خوا کښې ازغو نه
څۀ اوشو نن د ګل ښکلي فکرونه مې چيړي

لايقه که سل واره توبه ګار شمه د مينې
راځي مې په خيالونو کښې يادونه مې چيړي

○

چرې لرې دې دنیا نه پروت مې غېږ کښې لکه ګل وې
ستا نازونه وې نخرې وې ستا په چپه خوله خندل وې

مونږ لوظونه د وفا کړې ګواهي د کائنات وې
ته مې شمع زۀ پتنګ وې زما ستا مخ ته کتل وې

د ژوندون په قافلو کښې ملګرتیا مې تا سره وې
تسلي مو د یو بل کړې په چپو که ډوبیدل وې

نۀ ګیلې مو د یو بل وې د خفګان خبرې نۀ وې
څۀ خوشحال خوشحاله ژوند وې تۀ ګلاب زۀ دې بلبل وې

امیدونه مې کتلې ستا د غټو سترګو منځ کښې
مینه ستا زما هر څۀ وې نۀ خوراک وې نۀ مې څښل وې

زۀ لایق په تماشه وې هر اندام مې ستا ستائیلې
تورې زلفې دې چاربېته مړاوې سترګې دې غزل وې

○

تـا چـې د زړۀ سـره کـړې نااشـنا سـترګې
پرېږده چې ړندې شي اوس زمـا سـترګې

تـــا چـــې د راتلـــو ماتـــه وئيلـــي وو
سترګې انتظار مې کړې بېګاه سترګې

ډېـر ښـکلي کـه وينمـه د ګـل غونـدې
خـدائيګو کـه زۀ واړه ووم لـه تـا سـترګې

نشـــي څـــۀ ثـــاني ســـتا د کتـــو مـــړاؤ
څـــۀ وې د شـــيرينې او ليلـــى ســـترګې

ســـترګې د لايـــق د اوښـــکو ډکـــې دي
غـــواړي د الله نـــه مســـيحا ســـترګې

○

جانانــه اوس مـــې ژړيــدو تــه پريــږده
مرمــه خــو مــا لــږو سـلګو تــه پريــږده

اوچـــې مــې نکــړې راوتلـــې اوښــکې
ســېلاب د غــم لــږو چپــو تــه پريــږده

په ډک محفل کښې شرمنده چې دې کړم
نــۀ حصــاريږم مــا وتـــو تــه پريــږده

اوخانـــده ســـتا خنـــدا زۀ خپلــه ګـــڼم
مــا د غـــم ډکـــو اســوېلو تــه پريــږده

تــا چـــې لايــق تــه لمبــې پــورې کړلــې
لـــږ اور د مينـــې لګېــدو تــه پريــږده

○

راؤړه کچکول کښې مې سلګۍ واچوه
راتــــه د مینــــې هتکـــړې واچـــوه

چې تهٔ رقیب سره مسکې غونډې شې
ماتــــه اهونـــه پـــه جـــولۍ واچـــوه

ســـاقیه زهـــر دې تـــر اوســـه راکـــړه
لــږ مـې پـه جـام د سـترګو مئۍ واچـوه

دغـــه احســـان دې هیـــرولې نشـــم
راتــــه د زلفـــو زولنـــۍ واچـــوه

ســلګۍ کــوي د زړهٔ زخمونــه شــمیري
پـــه لایـــق ســـترګې لیـــونۍ واچـــوه

○

بيا ستا کوځې ته د درتلو مې توبه
ستا د پېروي مخ ليدو مې توبه

تا پرې زما نه سترګې واړه ولې
توبه د ژبې پرانستو مې توبه

لوظونو ستا زۀ تهمتي کړم ګله
تېر وتم دا ځل په توبو مې توبه

د انتظار لار کتو سترې کړمه
توبه د سوؤ اسوېلو مې توبه

زۀ لايق ډېر په ښکلو تېروتمه
بس دے د نورو يارانو مې توبه

○

ښکلي باغ وو سرۀ ګلونه وو تالا شو
تصور وو امیدونه وو تالا شو

چې رقیب دې په کوڅه کښې ګرم تېر شه
څۀ رنګین رنګین خیالونه وو تالا شو

چې وعدو دې انتظار راله تش راکه
ستا د مینې مې فکرونه وو تالا شو

بوراګانو چې ګلونه خوشې پرېښو
د بهار شینکي باغونه وو تالا شو

د لایق په فکر مند زړګي کښې یاره
سوي سوي ارمانونه وو تالا شو

○

د شپې ستا د مسکۍ خولې ویناګانې پاتې شي
رڼا شي سوې سوې ارزوګانې پاتې شي

ګیلې د یاره ډېرې په خلوت کښې زهٔ کوومه
خبرې په راتلو ئې معصومانې پاتې شي

خندا دې په یو ځلې زهٔ تر عمره لېونے کړم
بهار چې نوے تېر شي خوشبویانې پاتې شي

خیالونو کښې مې تالا غټې غټې منصوبې شي
رقیب چې درسره وي پرېشانې پاتې شي

لایقه چې بندونه دې سل سل ورته پوره کړهٔ
راپرېږده چې اوس اوښکې دې روانې پاتې شي

○

اشـــنا لېـــونۍ ســـترګې چـــې مـــې ســـتا لیـــدلي دي
د زړۀ پـــه ســـر مـــې بـــرغ غشـــي رسـا خـــوړلي دي

د غمـــه چـــې دا شـــونډې زمـــا تـــور ســـکارۀ ځلیـــږي
اهونـــــه مـــــې د زړۀ پـــــرې وار خطـــــا وتلـــــي دي

معصوم زړګیه خوره اوس ځائے په ځائے باندې داغونه
د اور تـــک ســـور انګـــار تـــه چـــې نـــن مـــا دانګلـــي دي

اوس پریـــږده چـــې ســـېلاب زمـــا د اوښـــکو رابهیـــږي
بندونـــه مـــې ســـل ســـل ورتـــه بیګـــاه وهلـــي دي

لایقـــه تـــۀ چـــې هـــر وخـــت خپـــل اشـــنا لېـــونے بـــولې
کـــم عقلـــه ښـــکلو هـــم چـــرې خطـــا منلـــي دي

○

خوښ مې خبر راتوله ول دې خو چې ستا کوڅه کښې وي
ښئ د هر سړي کنځل دي خو چې ستا کوڅه کښې وي

دا ګربوان مې څيرې خوښ د ے لېونے دې مشهور شم
سرۀ ګلان ګټې ويشتل دي خو چې ستا کوڅه کښې وي

دريغه صد که تهمتي شم خدائيګو ماله غنيمت د ے
زما خوښ هر رنګ رټل دي خو چې ستا کوڅه کښې وي

زۀ دې ستا د کوڅې سپے شم پرې والله که خفا کيږم
راته ګران ,,کورې، ،وئيل دي خوچې ستاکوڅه کښې وي

د جنت هغه ګهړۍ وي چې مې ستا په خوا تيروځي
د لايق ژوندون ژړل دي خو چې ستا کوڅه کښې وي

○

زۀ پــه ســرو ســترګو ژړيــږم او تــۀ لاړې
زۀ دې مينــه کښــې ســوزيږم او تــۀ لاړې

زمــا ســوال د محبــت دې کــړه پشــاړه
لکــه زوړ ديــوال نړيــږم او تــۀ لاړې

ســتا رټلــو رانــه يــو او دوه خطــا کــړل
زۀ د دار پــه ســر ځنګيــږم او تــۀ لاړې

تا خو سترګې کړې نااشنا غږ دې اونکړو
زۀ د غــم پــه تيــر غــوځيږم او تــۀ لاړې

مينـې ړونـد کړمـه تيـروے يـم سـل واره
زۀ بيــا هــم پــه تــا نــازيږم او تــۀ لاړې

زۀ لايــق دې ســرګردانه کړمــه پــاتې
د منــزل نــه نــۀ خبريــږم او تــۀ لاړې

○

د انتظـــار ګهــړۍ تيروځـــي د اشـــنا پـــه طمــع
د هجــر شــپو کښــې يــم ولاړه زۀ د صــبا پــه طمــع

د جرســـــونو څــــۀ صـــــدا ده قــــافلې لاړې
زۀ لاحصـــار يـــم د صـــحرا او د رهـــا پـــه طمـــع

څـۀ ,,زادِ راه* ،، مــې د عقبـا راجمـع کـړې نـۀ ده
يمـــه تيـــروتے د حبـــاب رنګـــې دنيـــا پـــه طمـــع

پـه وينـو سـرۀ مـې شـول لاسـونه د ازغـو پـه څوکـو
چې پـه محفـل کښـې ګرزيدمـه د ,,لالـه،، پـه طمـع

لايقه نخښې د ,,ليلى ،، او ,,شيرينۍ،، چرتـه دي
چې تۀ لاناست ئې د ,, پئۍ مخو،، د وفـا پـه طمـع

---

* د لارې سامان

○

د هجران تورو تيارو کښې کله خاندم کله ژاړم
زۀ د مينې په نغمو کښې کله خاندم کله ژاړم

دا زما څۀ عادت نۀ دے د جنون څۀ علامه ده
ستا د مخ په تماشو کښې کله خاندم کله ژاړم

کله وايم چې زۀ ځان يم کله وايم چې تۀ زۀ يم
ددې فکر اديرو کښې کله خاندم کله ژاړم

په خيالونو کښې زما شې ژوند زما ټوله نغمه شي
د فکرونو قافلو کښې کله خاندم کله ژاړم

زړۀ له سل قسمه ورکړم ولې بيا راته ياديږي
زۀ لايق د غم چپو کښې کله خاندم کله ژاړم

سرې لمبې راته جهان دے نۀ رغيږم
سراسر مې ژوند هجران دے نۀ رغيږم

د دنيا مخ خو بيلتون سره اشنا شو
رانه لرې پاس اسمان دے نۀ رغيږم

که زړګې ته ډېر د صبر صبر وايم
ستا د غمه په لړزان دے نۀ رغيږم

تصور ئې د رخسار کولے نشم
زما ژوند دے زما ځان دے نۀ رغيږم

زۀ لايق په بې وفا ښکلې مئين شوم
ځکه نور ژوندون مې ګران دے نۀ رغيږم

○

اورمـه دا چې ,, مسـيحا ،، راځـي
زمــا د زړۀ د رنـــځ شـــفا راځـــي

چې مې په قبر ګياه اوټو کيږي
ماته هيڅ نۀ دي که بيا بيا راځي

په وينو ډنډ زخمونه ګوري زما
د ترس خيال ئې په خندا راځي

زړۀ ترينـه چرتـه اړولـے نـۀ شـم
غشـي د سـترګو وارخطا راځـي

زۀ لايـق تـا بـه يادوومـه خبـر دے
پـه جـدايئ کــه دې ژړا راځـــي

○

ستا د خندلو زمانه تېروته
زمونږه ښکلې يارانه تېروته

تا د دروغو به لوظونه کول
زما د اوښکو پېمانه تېروته

دا جوړې شمعې رڼا تته کړله
چې ئې د مخې پروانه تېروته

د معصوم ژوند نه د معصومې مينې
د اميدونو اشيانه تېروته

ما کړه وفا که تا جفا کوله
د لايق دغه افسانه تېروته

○

چې د اوښکو یو تر بله اوځي
چغې د غم مې د ګوګله اوځي

چې ستا دا نوم په شونډو راشي زما
خیال مې د عقل د منزله اوځي

ما وئیل ستا مینه به هیره کړمه
ذهن مې ستا د خیاله کله اوځي

ګیلې مې ډېرې وي په زړهٔ دننه
د زړهٔ وینا په خوله بدله اوځي

چې لایق ستا په تصور کښې کیني
خیال ئې د باغ د هر یو ګله اوځي

○

چې د حالـه مـې خبرېـږې زۀ بـه نـۀ یـم
چې پـه ځـان بانـدې پـوهېږې زۀ بـه نـۀ یـم

خفـه ځکـه شـم چې سترګې مـې غړېږي
بیـا بـه هـر چـا تـه خنـدېږې زۀ بـه نـۀ یـم

پـه ژونـدون دې زمـا خیـال خـاطر اونکړو
کـه مـې قبـر تـه اودرېـږې زۀ بـه نـۀ یـم

اوس په ما دې سترګې لګي نو شرمېږې
پـه کوځـه بـه مـې تېرېـږې زۀ بـه نـۀ یـم

زۀ لایـق چـې ښـکاره وایـم شـرم راشـي
چې مقصـد تـه مـې رسېږې زۀ بـه نـۀ یـم

○

زۀ بـــې لتانـــه خوشـــحالیانې څـــۀ کـــړم
پـــه زړګـــي نـــورې ارزوګـــانې څـــۀ کـــړم

یـــاره چـــې تـــا ورکښـــې لیـــدلے نـــۀ شـــم
تخـــت د طـــاؤس او بادشـــاهانې څـــۀ کـــړم

پکښـــې د زلفـــو خوشـــبوۍ چـــې نـــۀ وي
ډکـــې د عطـــرو فضـــاګانې څـــۀ کـــړم

چـــې زمـــا خپلـــه مـــانړۍ جـــوړه نـــۀ وي
زۀ بـــه بنګلـــې د چـــا ودانـــې څـــۀ کـــړم

لایقـــه هســـې منتونـــه مـــۀ کـــړه
زۀ ســـتا پـــه مـــخ اوښـــکې روانـــې څـــۀ کـــړم

○

شونډې چې ستا په پرانستو کښې وينم
لکه چې ګل په غوړېدو کښې وينم

د زړګي سره څۀ ثاني نۀ لري
خوند چې په سوؤ اسوېلو کښې وينم

زړۀ مې بې واره په ټوپونو سر شي
بلې ډېوې چې مقبرو کښې وينم

لړې روښانه کړه د مين شمعې
د پتنګ اوښکې بهېدو کښې وينم

نن ئې وئيل لايقه څۀ خبر ئې
تل دې د خيال په آئينو کښې وينم

○

بېګـــاه راتـــه بـــې شـــانه یـــاره تـــهٔ رایادیـــدې
د للمـــــې پـــــه ګلونـــــو لکـــــه پرخـــــه وریـــــدې

ګهـړۍ مـې ترسـحره سـتا د خیـال پـه رنګینـو وې
تیـــرو کښـــې د هجـــران مـــې لکـــه شـــمع بلیـــدې

خبـرې د فـراق چـې دې پـه شـونډو بانـدې راغلـې
ســـلګۍ د غـــم لمبـــې شـــوې د بدنـــه تاویـــدې

په خوله مې څهٔ اونهٔ وئیل خفګان مې ستا لیدلو
راپریـــوتم پـــه زمکـــه چـــې رقیـــب تـــه خندیـــدې

څه خبـر د ے کـه قسـم وو تـا د نهٔ راتلـو پـوخ کـړے
لایـــق تـــه د خیـــال پـــه آئینـــو کښـــې ځلیـــدې

○

په خوب اوده چې لېونۍ ځليده
ملګرو خدائيګو درخانۍ ځليده

زلفې خورې ئې په رخسار پرتې وې
لکه وريځو کښې سپوږمۍ ځليده

لکه خوشبو ترينه د عطرو تلله
چې په بستر د ګل غوټۍ ځليده

ملګرو ځکه زه مسکے غوندې شوم
شپه مې په خيال کښې بيګانۍ ځليده

لايق ته ئې چې بې هوشه کړلې
پکښې څه نخښه د ځوانۍ ځليده

○

څه اوس په ما باندې اعتبار مه کوه
ستا دې قسم وي انتظار مه کوه

یم دې د دره بې نوا شړلے
هر جائي ! بیا فضول اقرار مه کوه

دا خپل عزت راته نور ګران ښکاریږي
درځم زۀ نه ، هسې تکرار مه کوه

تا خو زما نه لیونے جوړ کړلو
که مړي تپوس هم د بیمار مه کوه

قسم په خدائے که بیا دې نوم واخلمه
بس کړه لایق سره اصرار مه کوه

○

اوس بـــه جوړومـــه د يـــادونو ځلـــې
زړۀ کښـــې د ســـوؤ ارمـــانونو ځلـــې

د تـــرس نخښـــې پکښـــې نـــۀ ښـــکاريږي
ډېـــر مـــې کـــړل ســـاز د منتونـــو ځلـــې

خنـــدا پـــه شـــونډو مـــې راتللـــے نـــۀ شـــي
پراتـــۀ پـــه زړۀ مـــې د غمونـــو ځلـــې

مينـــه مـــې کـــړې ده څـــۀ جـــرم نـــۀ دے
ځکـــه ښـــکلووم د پېغورونـــو ځلـــې

بلـــې شـــي زړۀ کښـــې ښـــۀ د مينـــې لمبـــې
ويـــنم چـــې پـــړق پـــه مثـــالونو ځلـــې

لايقـــه مـــخ چـــې اړوي لـــه مانـــه
جـــوړوي نـــور مـــې د خوبونـــو ځلـــې

○

داسې ښکاري د دروغو ثواب هم شته
فکر اوکړه په رښتیاؤ عذاب هم شته

ځان ته هسې لاندې باندې کتل مهٔ کړه
چې لقمان د زمانې له جواب هم شته

که د طفل غوندې خلاص شوې په پرتوګ کښې
داسې مهٔ بویه چې خوند د شباب هم شته

تهٔ به ئې هسې په ظاهر صورت نازیږې
په غندل کښې پټ ازغي د ګلاب هم شته

که يو ماشې د غرور په اسپه زغلي
د بلبل په خوله کښې خوند د کباب هم شته

ته غوږې پسې وهه په لاس به درشي
دروغ نۀ دي چې ګوهر په درياب هم شته

که د يو په خوله خندا ښکاري لايقه
په ګرېوان کښې د بل اوښکې سېلاب هم شته

## قطعه

که مې سترګې ستا په مينه کښې ړندې شي
نوم دا ستا مې په خوله بيا راتللے نۀ شي
زۀ دې ډېر په خپل محفل کښې يم سپک کړے
روح وتے شي دا د زړۀ وتلے نشي

○

تــل د هجـران تــورو تيــارو کښــې اوســم
فقــط د خيــال پــه اديــرو کښــې اوســم

نــهٔ څــهٔ منــزل نــهٔ راه نمــا لرمــه
زهٔ پــه کــاروان د ليونــو کښــې اوســم

يــوه ښــکلا مــې ده کــافي ګڼلــې
تــل د هغــې پــه رسـيدو کښــې اوســم

ملګــرو ولــې بــه نشــه نــهٔ يمــه
تــل چــې د سـترګو ميخـانو کښـې اوسـم

چــا راکتلــي دي پــه مــړاؤ مــړاؤ
ځکـه لايقـه پـه سـرو لمبـو کښـې اوسـم

○

راغلــــم پـــرون د امیـــدونو ســـره
ځـــم بـــه صـــبا د ارمـــانونو ســـره

کلـــه د څـــۀ کلـــه د څـــۀ خبـــرې
والـــوتم خـــس د طوفـــانونو ســـره

کلـه خیالونـه د غـرور پـه زړۀ کښـې
کلـــه د چـــا د منتونـــو ســـره

یـــا د فریـــاد یـــا د خنـــدا وختونـــه
کلـــه ازغـــو کلـــه ګلونـــو ســـره

لایقـــه وران دې شـــو چمـــن د زړګـــي
پـــه څـــو رټلـــو جوابونـــو ســـره

○

خبـــرې کـــوه نـــورې خـــو د تلـــو خبـــرې نـــا
نړیـــږي د زړهٔ کـــور پـــرې د ګیلـــو خبـــرې نـــا

د سرو شونډو په سر دې څهٔ خوږې خبرې وایه
خـائیږي دې پـه خولـه کښـې د ترخـو خبـرې نـا

د مینـې پـه دنیـا کښـې سـرګردانه یمـه پـاتې
د لارې شـــه رهبـــر مـــې د لمبـــو خبـــرې نـــا

د زړهٔ په بُت کده کښې مې مقام درلـه درکړے
کـوؤم څکـه پـه خولـه اوس د پـردو خبـرې نـا

لایقـه پـه څـو ځلـه د هجـران لمبـو سـتي کـړم
یـرئ مـې څکـه اوس د سـوزیدو خبـرې نـا

○

اے پـه شـین بهـار خزانـه پخیـر راغلـې
د تنکـی مینـې هجرانـه پخیـر راغلـې

اسـوېلو او ژړا واړه سـتړي مـهٔ شـئ
هلـه زر راځـه خفګانـه پخیـر راغلـې

شبګیرو تاسو تـه ډېر ډېر هر کلے وے
د معصـوم زړګـي ارمانـه پخیـر راغلـې

هلـه کینـئ ګرمـو اوښـکو درنـه زار شـم
سـربېر ځیـرې ګریوانـه پخیـر راغلـې

د یـار غمـه مـا دې ډېر ډېر انتظـار کړو
د لایـق د خیـال جهانـه پخیـر راغلـې

○

چې په کښې زړۀ له مې قرار نۀ وي
چرې چمن کښې دې بهار نۀ وي

هغه زړګے د تپوسلو نۀ دے
چې ئې په خوا د مينې يار نۀ وي

شپه کړمه تيره د صبا په طمع
چغې صبا کړم چې ديدار نۀ وي

,,کړے تېرو،، سګريټ د هغه ياره ښۀ دے
چې بې وفا وي وفادار نۀ وي

ښکلي که سل سل قسمونه اوکړي
لائقه بيا ئې پرې څۀ کار نۀ وي

○

مخ دې د خيال په بُت کدو کښې ښکاري
سر مې د مينې په سجدو کښې ښکاري

نن جوړې بيا ئې سترګې دې بدلې
خيال ئې زما په ژړيدو کښې ښکاري

زما د اوښکو اوچيدو دپاره
تاته څۀ ګران په خنديدو کښې ښکاري

هغه شان خوي د معصومانو کوې
د شباب نخښې دې راتلو کښې ښکاري

لايقه دغه ئې احسان اوګڼه
چې د غزل په آئينو کښې ښکاري

○

بېګاه په خوب کښې مې په زړهٔ راورېدل ګلونه
ډک د مکېز نه مې په غېږ کښې خندېدل ګلونه

تا چې به ستر ګې په خندا ماته راواړولې
پټ به په زړهٔ کښې مې د مينې ټوکېدل ګلونه

تا چې يو ځلې وو کتلې د ګلشن غاړې ته
ښهٔ راته ياد دي ستا د مخه شرمېدل ګلونه

ستا د فراق خبره راغله چې د شونډو په سر
د بهار سپړدي به مې رو رو رژېدل ګلونه

لايقه ماته ئې يادونه آئينې پرېښودې
هغه شول تېرچې به مې خواکښې موسېدل ګلونه

○

خورمــــه قســـم زۀ رغیـــدلے نـــۀ شـــم
چـــې دې نـــۀ ویـــنم صـــبریدلے نـــۀ شـــم

خېـــر تـــۀ زمـــا مینـــه فضـــول اوګڼـــه
درســـره خونـــد کـــړې څـــۀ وئـــیلے نـــۀ شـــم

دریغـــه دا زړۀ مـــې درخـــودلے شـــولے
غمونـــه ډیـــر مـــې دې شـــمیرلے نـــۀ شـــم

مـــا د هـــر چـــا ډکـــې کاســـې اولیـــدې
ځکـــه تـــش لاس رخصـــتیدلے نـــۀ شـــم

لایـــق چـــې وائـــي نـــو شـــرمیږي درنـــه
نـــوم دې د خیالـــه بیلـــولے نـــۀ شـــم

○

ســـــاحره جـــــادوګره د زړۀ ورڼـــــه د غـــــزل
پـــــه مـــــړاؤ مـــــړاؤ ســـــترګو راکتنـــــه د غـــــزل

غزلـــه تـــۀ غـــزل ئـــې يـــو غـــزل د لېونـــو ئـــې
عيسٰـــى شـــې کلـــه کلـــه شـــي پوښـــتنه د غـــزل

کنځـل دي کـه رټـل دي شـي غـزل کلـه چاربيتـه
پـــه ســـترګو غټـــو غټـــو کښـــې خوړنـــه د غـــزل

خاطر چې دې بدل شي نو ګيلې غزل غـزل شي
محفـــل نـــه پـــه غصـــه کښـــې شـــي وتنـــه د غـــزل

غزله ستا په خيـال کښې بـه لايق کلـه لايق شي
قســـم د ے بـــې نـــوا شـــي هـــم شـــړ نـــه د غـــزل

○

جانانه ستا په خوله کښې چې د تلو خبره وه
زړګي له مې والله د سوزيدو خبره وه

خبره وه خبره په خبرو کښې چې راغله
اشنا نهٔ د خفګان نهٔ د ګیلو خبره وه

خبره بله نهٔ وه چې په شونډو زما راغله
په تا مې بس د سترګو خوږيدو خبره وه

کچکول مې وو دروړے د رضا منت دپاره
په زړهٔ کښې ستا اشنا څهٔ د اوږدو خبره وه

خبره ستا خبره وه صفا د کانړي کرښه
خبره د لائق د لېونو خبره وه

په زړګي مې راوريږي سترګې
هر ساعت کښې مې يادېږي سترګې

څۀ ښائست دې د جانان سترګو کښې ايښې
ګلابونه ترې شرمېږي سترګې

لکه پرخه چې د ګلو په مخ خاندي
په رخسار داسې ځلېږي سترګې

د معصوم زړګي په کور کښې لړزان جوړ کړي
کله کله چې جنګېږي سترګې

څۀ به خوب څۀ به خندا اوکړې لايقه
چې په زړۀ کښې دې اوسېږي سترګې

○

د شـــرم نخښـــې چـــې نګـــار جـــوړوي
اوښـکې مـې ګرمـې پـه مـخ لار جـوړوي

لا ئـې د مينـې ارمـان تـار پـه تـار کـړو
بـــاغ د اميـــد هســـې ماليـــار جـــوړوي

رائـې کـړل زهـر چـې يقـين مـې کـاوو
خيـال مـې وو دا عيسٰـی بيمـار جـوړوي

د تـــرږو ســـترګو څـــۀ پـــرواه نـــۀ لـــري
ځکـــه ليدنـــه ئـــې خمـــار جـــوړوي

لايقـــه نـــن ئـــې چـــې د صـــبر وئيـــل
ښـــکاري د قتـــل دې څـــۀ کـــار جـــوړوي

○

ناصحه کــه يــو ځلــې دې نګــار ليــدلے دے
چې خوند دې خامخا په ژوند د دار څکلے دے

ششــدره زليخــه وه د يوسف پــه حســن بانــدې
ضــرور بــه لېــونے وے کــه ئــې يــار کــتلے وے

ستا نم لکه يعقوب به بيا د سترګو نه روان وو
رســا کــه دې يــو ځــل پــه زړۀ ګــذار خــوړلے وے

لمبــو تــه د نمــرود دے هــر کلے عشــق وئــيلے
خنــدل بــه عقــل نــۀ کــه ئــې بهــار مــنلے وے

تســکين بــه مــې لايقــه وو زړګــي تــه رســيدلے
پــه در کښــې د نګــار مــې پــه بــار بــار ژړلے وے

○

کتــــل دې غلــــې غلــــې فســــادونه جـــوړوي
پــه زړۀ کښــې مــې ستــا مینــه طوفانونـه جـوړوي

والله د زړګـي سره یـو سـیکنډ لـه چې خفـه شـې
پــه مـخ مـې ګرمـې اوښـکې سـېلابونه جـوړوي

چې شمع څو بلیږي نو پتنګ به پرې سوزیږي
دنیـــا دې ورتـــه هســــې دیوالونـــه جـــوړوي

راځــه چــې ســره لاړ شــو د دنیــا د غمــه لــرې
لایقـــه ډېـــر عـــالم کـــه تهمتونـــه جـــوړوي

○

ستـرګې پـه خونـد خونـد چـې تـورلې تـا
زړۀ کښـــې د چـــا لارې جـــوړولې تـــا

فکـــر دې د چـــا د ســـوزیدو نـــۀ وو
زلفـــې پـــه اوګـــو چـــې خـــورولې تـــا

زړۀ زمـــا وړې وړې ســـلګۍ اوکـــړې
شـــونډې چـــې رقیـــب تـــه خـــوزولې تـــا

ستـرګې چـې ګلشـن تـه دې کـږې کړلـې
ســـرې غـــوټۍ د ګلـــو شـــرمولې تـــا

وائـــې لایـــق یـــره دې د خـــدائے نـــه وه
خـــاورې پـــه وعـــدو چـــې اړولـــې تـــا

○

غلـــې غلـــې خندیـــدې او مـــا ژړل
لکـــه شـــمع بلیـــدې او مـــا ژړل

د حیـا نـه چـې دې سـترګې کړلـې ښـکته
تــهٔ پــه ځــان نــهٔ پوهیــدې او مــا ژړل

چـې اقـرار د محبت مـې پـه خولـه راغـے
تـــهٔ زمـــا نـــه شـــرمیدې او مـــا ژړل

اے زړګیــه پــه راتلــو د هغــه ســترګو
بـــې اختیـــاره درزیـــدې او مـــا ژړل

د لایــق نــه هغــه وخــت کلــه هیریــږي
چـــې رقیـــب نـــه زاریـــدې او مـــا ژړل

○

تېر چې غلې غلې شوې زما نه خبر
سترګې دې بدلې کړلې جانانه خبر

زۀ به په زړو يادونو ژوند کووم
تا کړله د مينې دنيا ورانه خبر

کړې ئې وعدې راته رايادې دي
خبر که مې دشمن شولې اسمانه خبر

بيا به مې بلې خو زۀ به نۀ يمه
نن تۀ څۀ خبرنۀ ئې د ځانه خبر

څوک د عشق لايق دے چې لاس ورکړمه
يو به سم غمونه د جهانه خبر

○

پــه چپــه خولــه چــې نــن نګــار اوخنــدل
لکـــه پـــه ګلـــو شـــين بهـــار اوخنـــدل

بيـــا د جفـــا بـــه دې ګيلـــه نـــۀ کـــوؤم
پــه ډکــه خولــه کــه دې يــو وار اوخنــدل

ملګـــرو ځکـــه ئـــې نشـــه کړمـــه زۀ
پــه مړاؤ ســترګو کښــې خمــار اوخنــدل

مــا وے ګلونــه دي چــې لاس مــې کړلــو
راپــورې غلــې غونــدې خــار اوخنــدل

لايقــه خــوب او خيــال دې هغــه مــخ دے
ځکـــه دې ځـــان ســـره پـــه لار اوخنـــدل

○

چغې وهم چې مې نیمګړې ترانې پاتې شوې
زما په زړۀ کښې ستا یادونه افسانې پاتې شوې

په هر قدم دې د زړګي په سر ګذار راکړلو
ستا نه ګیلې مې رنګا رنګه زمانې پاتې شوې

د زړۀ په مینه ورته ګوره چې ضایع ئې نۀ کړې
نخښې مې تاته د ویرانه اشیانې پاتې شوې

اور د فراق راته آخر تر سره پورې شولو
زړګیه تاته چې مې کړلې بهانې پاتې شوې

هېڅ څوک د مینې لایق نشته چاله لاس ورکړمه
ځکه زما نه خود غرضه یارانې پاتې شوې

# مزاحیه

ما چې دلبر ته منتونه اوکړل
ظالم رټلي جوابونه اوکړل
ما چې وئیل ژوندون بې تا څۀ کووم
صفا ئې زر زر انکارونه اوکړل
ما چې وئیل زۀ به دې ستړکې ستایم
,,پیسو ته غل،، ئې اوازونه اوکړل
ما چې وئیل زۀ دې خندا شاعر کړم
,,مخ دې رب تور کړه ،، ئې سوالونه اوکړل
ما چې وئیل په مرګ به صبر نۀ شم
زما په عشق ئې لعنتونه اوکړل
ما چې وئیل ژوندون مې تا سره دے
,,د خوشي جیب ،، ئې پیغورونه اوکړل
سوال لایق اوکړو د کتو یو وارې
ظالم د لرې سلامونه اوکړل

○

زخمـــي زړګيـــه کوشـــيرونه واخلـــه
بـــس کـــړه ددې محفـــل لاســـونه واخلـــه

ستـا پـه راتلـو چـې شـمع پـاتې نـۀ شـوه
صـــبر طبيـــب کـــړه ټکورونـــه واخلـــه

چـې ئـې کـړې پـاتې سـرګردانه غونـدې
د هغـــه يـــاره رخصـــتونه واخلـــه

کـه اوس وفـا ښـکاريږي ګرانـه يـار تـه
د ے غنيمـــت زاړۀ يادونـــه واخلـــه

خيـر د ے کـه سـل ځلـه ئـې اوړتلـې
لايقـــه بيـــا ئـــې ســـلامونه واخلـــه

○

د بــل رضــا چــې کــړې زمــا رضــا کلــه کــوه
چــې مخــې لــه مــې راشــې نــو خنــدا کلــه کــوه

د زړهٔ ســوي ګلشــن تــه د بهــار وږمــې ښــکاریږي
اشــنا پــه نرمــو شــونډو دې مســکا کلــه کــوه

د سترګو د لیندو نه دې ګزار نهٔ خطا کیږي
تپــوس د مریضــانو د شــفا کلــه کــوه

قیصــې د جفاګــانو دې اشــنا هــر پلــه کیــږي
روانیــږي دې کــوم کــور یــاره وفــا کلــه کــوه

لایقه چې دې خومره یادوم په شپه او ورځ کښې
بــس یــو ذکــر مــې تــهٔ ښــکلیه اشــنا کلــه کــوه

# زړګیه بس کړه

بې وفائي خوي د جانان دے
زړګیه بس کړه ترې قلار شه
خبر دے که ژوند ترې بغیر ګران دے
زړګیه بس کړه ترې قلار شه

ستا په ژړا پورې خندل د هغې
ستا د منت جواب کنځل د هغې
دا خو ژوندون نۀ دے زندان دے
زړګیه بس کړه ترې قلار شه

ستا په سجدو کښې تصور د هغې
د خیال قلم دې مصور د هغې
تل د رقیب سره ګویان دے
زړګیه بس کړه ترې قلار شه

زړګیـــه هســـې تېروتـــل مـــۀ کـــوه
پـــټ د امیـــد ســـره خنـــدل مـــۀ کـــوه
حُســـــن د دوه ورځـــو مهمـــــان دے
زړګیـــه بـــس کـــړه تـــرې قـــلار شـــه

لایقـــــه مینـــــه پټـــــوې اوس ځلـــــه
ځـــان د تهمتـــه بـــچ کـــوې اوس ځلـــه
درتـــــه نظـــــر د تـــــول جهـــــان دے
زړګیـــه بـــس کـــړه تـــرې قـــلار شـــه

○

غـوځ د زمـانې زړۀ پـه کلونـو رغیـد ے نشـي
اوښکې ملغلرې مې د سترګو اوچید ے نشي

خدایه ستادنیا کښې دا خپل غم چا سره اوژاړم
خپل رانه پردي شول پردي کله پوهید ے نشي

ورکه خوشحالي شه دا خندا شه ، محفلونه شه
دا لکـه پټـې مـې پـه زخمونـو لګیـد ے نشـي

اے لایقـه زړۀ تـه چـې دا وائـې صـبر صـبر شـه
ګوټ د اوبو شکو کښې والله حصارید ے نشي

○

بلبـــــل د ګلـــــه صـــــبریدلے نشـــــي
پتنـــــګ بـــې شـــمع ســـوزیدلے نشـــي

کـــه د فطـــرت ښـــکلا راټولـــه کړمـــه
حســـــن د یـــــار تـــــه رســـیدلے نشـــي

چـــې پـــه ژونـــدون دې پیښـــه اونکړلـــه
اوس دې احســـــان قبـــــر مـــــنلے نشـــي

کـــه ســـل قســـمه ورکـــوم زړګـــي تـــه
لیـــــدلې ســـــترګې هیـــــرولے نشـــي

لایـــــق لتانـــــه ګیلـــــې ډیـــــرې کـــوي
تاتـــــه چـــــې اوګـــوري وئـــیلے نشـــي

# بدله

د دنيا د بازارونو مې زړۀ موړ دے
د نيمګړو محفلونو مې زړۀ موړ دے
چاله ورشمه خپل غم ورته بيان کړم
ددې خوشو رواجونو مې زړۀ موړ دے

يا قربان...
ګيله مند يمه خالقه ډېر له تانه
دنيا ګۍ مې د زړۀ ځکه ده پريشانه
خوشحالي مې په ژوندون کښې نصيب نشوه
پاکه ربه لمبه کېږم د خفګانه
په ظاهره رورلي په زړۀ کښې نورې
زړۀ مې موړ دے ستا د داسې رنګ انسانه
چې تسبې ئې وي په لاس کښې زبرګ ئې بولم
خبر نۀ يم ددغه رنګ شيطانه
په ربښتياؤ باندې لاس دپاسه کېږدي
په لالچ د تېکې تېر شي د خپل ځانه

چې دولت باندې مذهب له دیکه ورکړي
هائې توبه شه نن صبا د مسلمانه

زما سترګې د وصال په غم ړندې شوې
ورک شه عمر چې وي لرې د جانانه
ته یو ځل تنده د عمر مې کړه ماته
دا یو سوال دے که منې ظالم هجرانه
یو ارمان یوه ارزو ده تمنا ده
نظر ولې نهٔ کوې غني سبحانه
څهٔ مزه ئې په ژوندون کښې پاتې نشوه
د لایق شوله د مینې دنیا ورانه
یا قربان...
غمونه ما سره ښهٔ ښکاري
چې په دې لویه دنیا زهٔ بې څوکه شومه
غمونه ما سره ښهٔ ښکاري
چې مې نمجنو سترګو کې فسادونهٔ

یادګیرنه :- دا شعرونه په کال ۱۹۷۸ء کښې د سټیج ډرامې ,, انسان او شیطان ،، دپاره اولیکلے شو - چې ما ورکښې د سکول د استاد کردار ادا کړے وو -

لایق زاده لایق